د امنیت شورا

SC/9218

د عامه اطلاعاتو دیپارتمنت د اخبار او رسنیو څانګه- نیویارک- د امنیت شورا

## د امنیت شورا د ملګرو ملتونو د مرستې د ماموریت موده په افغانستان کې یو کال اوږده او لومړیتوبونه یې جدي کوي

د هغو ننګونو په وړاندې چې افغانستان ورسره مخ دی د یوه هر اړخیز میتود په اهمیت باندې په ټینګار کولو سره او له دغه دولت او هیواد سره د خپل ملاتړ په بیا تائیدولو سره د امنیت شورا نن په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سوله ساتي حضور ماموریت دلته د یوه کال مودې لپاره اوږد کړ او د هغه لومړیتوبونه یې لا جدي وګرځول.

د رایو په اتفاق د ۱۸۰۶ (۲۰۰۸) لمبر پریکړې په تائیدولو سره، د امنیت شورا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې پلاوی (یوناما) ته لارښوونه وکړه، چې د نورو کارونو تر څنګ، د نړیوالو ملکي هڅو مشري وکړي، د افغان دولت لپاره همغږي او منسجم نړیوال ملاتړ او د افغانستان د تړون لیک له اصولو څخه پیروي او تابعیت کول بهتر کړي، د نړیوالی امنیتي مرستي ځواک (ایساف) سره همکاري پیاوړی کړي، او د هیواد پر کچه د یوه پراخ شوی حضور له لارې سیاسي هڅې په واک کې ورکړي.

(د افغانستان تړون لیک چې د ۲۰۰۵ په سپتمبر کې د بن پروسې رسمي پای ته رسیدل یې تعقیب کړل، د یوې پنځه کلنې دورې لپاره یې د افغان او نړیوالو هڅو تر منځ د همغږۍ په منظور یو چوکاټ رامنځ ته کړ.)

سربیره پر دې، د دغې پریکړې په واسطه به یوناما د هغو هڅو ملاتړ کوي، چې حکومت کول او د قانون حاکمیت تقویه کړی او د فساد په ضد مبارزه وکړي، د بشر پالنې د مرستې رسولو د اسانه کولو په لار کې د همغږۍ کولو مرکزي رول ولوبوي، د بشر حقونه لا ښه کړي، او د ټاکنو په پروسه کې مرسته وکړي په خاص ډول د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له لارې.

شورا په افغاني او نړیوالو شریکبانو باندې غږ وکړ، چې له یوناما سره د هغې د ماموریت په پلی کولو کې او د یوناما په هغو هڅو کې چې د هیواد په سطحه د ملګرو ملتونو او له هغې سره د اړونده کارکوونکو د خوځښت ازادي بهتره کړي همغږي شي.

په ولایتونو کې د یوناما د حضور او د ملګرو ملتونو نورو پروګرامونو د پیاوړي کولو او پراختیا ورکولو په اهمیت باندی په ټینګار کولو سره شورا عمومي منشي وهڅاوه چې هغه ترتیبات وروستی پړاو ته ورسوي چې د اړونده امنیتي موضوع ګانو کار سر ته ورسیږي.

شورا په خورا سختو الفاظو کې ټول بریدونه، د ځان مرګو بریدونو او تښتونو په ګډون، د ملکي افغانانو او نړیوالو ځواکونو په نښه کول او د دغو بریدونو زیانمونکی اغیز د بیا ودانولو او پراختیا په هڅو باندې او د طالبانو او د نورو افراطیانو له خوا له ملکیانو څخه د ډال په توګه کار اخیستل، غندي. شورا همدارنګه د افغانستان په دولت باندې غږ وکړ، چې د ایساف په مرسته د هغې ویرې او تهدید سره مقابلې وکولو ته دوام ورکړي، چې د طالبانو، القاعده، نا قانونه وسله والو ډلو، جنایت کارانو او هغو عناصرو له خوا منځ ته راغلې چې د نشه يي توکو په سوداګرۍ اخته دي.

په اړونده احکامو کې شورا یو ځل بیا خپله اندیښنه د ټولو ملکي تلفاتو په باب اظهار کړه او خپله خورا ژوره اندیښنه یې د طالبانو د ځواکونو له خوا د ماشومانو د جلبولو او کارولو په باره کې بیان کړه.

سربیره پر دې، شورا د روزنې له لارې د افغان امنیتي سکتور د مسلکي توب د زیاتیدلو په اهمیت باندې ټینګار او د افغان ملي اردو په وده، کې یې د پر له پسې پرمختګ کولو هر کلی وکړ. د افغانستان د ملي پولیسو د توانمندۍ زیاتولو لپاره یې د نورو هڅو او د نا قانونه وسله والو ډلو د له منځه وړلو په برخه کې یې د لا زیات پرمختګ غوښتنه وکړه.

شورا همدارنګه په دولتونو باندې غږ وکړ، چې نړیواله او سیمه ییزه همکاري پیاوړې کړي ترڅو له هغه نړیوال ګواښ سره مقابله وکړي، چې د هغو نشه يي توکو ناقانونه تولید او قاچاق کول یې منځ ته راوړي دي، چې له افغانستان څخه سرچینه نیسي.

د ملي او سیمه ییز ثبات او ټیکاو لپاره د پاتې افغانی کډوالو د خپلې خوښې، خوندي او منظمې راستنیدنې او پایښت لرونکی بیا یو ځای کیدنې د اهمیت په درک کولو سره، شورا په دې برخه کې د لا زیاتې نړیوالې مرستې د دوام موندلو لپاره غوښتنه وکړه.

د ایتالیا استازی چې له رای ورکولو وروسته خبرې کولې، ویې ویل، چې دغې شورا یو ځل بیا د ملګرو ملتونو د یوه خورا مهم پلاوی په طرفدارۍ په قوت سره رایه ورکړه. په دغه پریکړه کې د سرمنشي د ریپوټ ټولې غوښتنې او د هغه د نوي ځانګړی استازی د ناروی دهیواد کای ایدی اړتیاوې چې د یوناما د ماموریت د جدي ګرځولو په اړتیا یې ټینګار کړی و، پوره شوې دي. په ربښتیا سره دغې پریکړې نه یوازې د دغه پلاوی موده د ۱۲ میاشتو لپاره اوږده کړه، همدارنګه یې د هغو لومړیتوبونو په باب څرګندې لارښوونې هم برابرې کړي چې په راتلونکی میاشت کې به وړاندې شي. په دغو لومړیتوبونو کې دا شیان شامل وو لکه د نړیوالو هڅو تقویه شوی همغږي او مشرتابه، له ایساف سره پیاوړی شوې همکاري، سیاسي پراخې هڅې، ملی پخلاینه، د بشري حقونو ښه کول، د ټاکنو ملاتړ او سیمه ییزه همکاري.

نوموړی همدارنګه یاده کړه، چې دغه پریکړې د افغانستان په باره کې د مارچ د ۱۲ د امنیت د شورا د بحث غوره ټکی او څرنګوالی په ګوته کړ (SC/9274)، چې په هغو کې دغه اړتیا شامله ده چې باید نوموړی پلاوی د دې خورا مهم اصل له خوا رهبری کړی شی لکه افغاني مالکیت او رهبری، د ملکیانو خوندي ساتنه په تیره بیا د ماشومانو، او د سولې او ټیکاو پرمختګ. دا نو اوس د ټولې نړیوالې ټولنې وظیفه ده چې دغه پریکړه د یوناما لپاره د بشپړ ملاتړ په توګه عملي کړي.

نوموړې غونډه د سهار په ۱۰:۲۱ بجو پیل او د شپې په ۱۰:۲۷ بجو پای ته ورسیده.

<u>پریکړه (مصوبه)</u>

د ۱۸۰۶ (۲۰۰۶) لمبر پریکړې بشپړ متن په دا لاندې ډول دی

"د امنیت شورا،

"د افغانستان په هکله د خپلو مخکینو پریکړو پر بنا، په خاص ډول ۱۷۴۶/ ۲۰۰۷ پریکړه چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې د پلاوی (یوناما) د ماموریت موده د ۲۰۰۸ د مارچ تر ۲۳ پورې اوږ دوي لکه څرنګه چې د 1662 (2002) پریکړې په واسطه منځ ته راغلې او همدارنګه د شورا د ۱۶۵۹ (۲۰۰۶) پریکړې پر بنا چې د افغانستان تړون لیک تائید وي،

"یو ځل بیا خپل قوی ژمنتوب د افغانستان حاکمیت، خپلواکي، ځمکنی بشپړتیا او ملي یو والی لپاره تائیدول،

" د افغانستان د دولت او خلکو په وړاندې د خپل دوامداره ملاتړ بیا تائیدول لکه څرنګه چې خپل هیواد بیا جوړوي، د پایښت لرونکی سولې او قانوني دیموکراسي شنني پیاوړې کوي، او د ملتونو په ټولنه کې خپل بر حقه ځای نیسي،

"په دغه محتوا کې د خپل ملاتړ بیا تائیدول د افغانستان د خلکو تر مالکیت لاندې د افغان د تړون لیک، د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ، او د درملو د کنترول ملي ستراتیژي د پلی کولو لپاره، او د دې ټکی په یادولو سره چې د ټولو اړونده فعالینو ځواکمنو او همغږو هڅو مکلفیت دی ترڅو د دغو شیانو د پلی کولو په لار کې ځواکمن پرمختګ وشي او پر له پسې ننګوني رفع کړي شي،

"په دې بنا چې د افغانستان تړون لیک د افغانستان د دولت او د نړیوالې ټولنې تر منځ د شراکت پر بنسټ اینبودل شوی، د افغانستان لپاره د ټولو خواوو له خوا په دې لیوالیتا ولاړ دی، چې دغه هیواد په پرمختلونکی توګه د خپلې پراختیا او امنیت مسوولیت پخپله غاړه واخلي او د ملګرو ملتونو د یوه مرکزي او بیطرفانه د همغږۍ رول لوبولو سره،

"د هغه مرکزي او بې طرفه رول په لوبولو ټینګار کول چې په افغانستان کې د نړیوالي ټولنې د هڅو په مشرتابه سره دغه رول ته دوام ورکوي د دې په ګډون چې په ګډه سره نړیواله ټولنه د افغانستان له دولت سره د افغانستان د تړون لیک په پلی کولو کې د هڅو همغږۍ او نظارت سرته رسوي او خپل د خوښې قدرداني او قوي ملاتړ اظهاروي په افغانستان کې د سرمنشي ځانګړي استازی او د یوناما نارینه وو او ښځینو ته،

"یو ځل بیا په افغانستان کې د چیلنجونو د یو تر بله نښلیدلي حالت په درک کولو سره، په بیا تئید ولو سره، چې د امنیت حکومت کولو او پراختیا او همدارنګه د مخدراتو ضد هر اړخیزه موضوع په دوه اړخیزه توګه له سره تقویه کیږي او د افغانستان د دولت او د نړیوالي ټولنې د دوامدرو هڅو هر کلی چې د یوې هر اړخیزې تګلارې په برکت د دغو ننګونو چاره وکړي،

"په افغانستان کې د ننګونو د حل او فصل کولو په معامله کې د یو هر اړخیز روش په اهمیت ټینګار کولو او د دې درک پر بنا په دغه محتوا کې، د یوناما او د ایساف د ګډو همکاریو په هدفونو کې او د یوې پیاوړې همکارۍ، همغږۍ او متقابل ملاتړ باندې په ټینګار کولو او د هغوي د اړوندو ټاکل شویو مسوولیتونو مناسب حساب اخیستنه،

"د خپلې اندیښنې بیا یادول په افغانستان کې د امنیت په باب په خاص ډول د طالبانو، القاعده، نا قانونه وسله والو ډلو جنایت کارانو او ټولو هغو عناصرو زیات شوی تاوتریخوالی له کبله چې د نشه یی توکو په سوداګرۍ بوخت دي، او د ترهګرۍ او د نا قانونه نشه یي توکو د سوداګرۍ تر منځ زیاتیدونکو اړیکو په باره کې چې په نتیجه کې محلي خلکو ته ګواښونه منځ ته راوړي، د ماشومانو، ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو پوځي او ملي کارمندانو په ګډون،

"د ملګرو ملتونو د کارمندانو او اړونده کارکوونکو په ګډون د بشرپالنې د کارکوونکو خوندي اوبې خنډه لاس رسي د تامینولو په اهمیت ټینګار کول،

"همدرانګه د اندیښنې اظهاروي د طالبانو او القاعد او نورو ترهګرو ډلو د ترهګرۍ د فعالیتونو د زیان رسوونکو پایلو په باره کې د افغانستان د حکومت په ظرفیت باندې، چې د قانون حاکمیت تضمین کړي، سوله او اساسي خدمتونه د افغانستان خلکو ته تامین کړي اود بشر د حقونو او اساسي ازادیو بهترې او ستانه تامین کړي،

"د ښه ګاونډیتوب د اړیکو په باره کې د ۲۰۰۲ د دسمبر د ۲۲ د کابل د اعلامیې (S/2002/1416) د اهمیت پر بنا د افغانستان په باره کې د سیمه ییزې همکارۍ دریم کنفرانس ته په تمه کتل چې په اسلام آباد کې به جوړیږي او د سیمه ییزې همکارۍ د بهتر کولو په حیاتي اهمیت باندې ټینګار کول د یوې اغیزناکې وسیلې په حیث چې په افغانستان کې سوله، حکومت کول او پراختیا پیاوړې کړي،

"د ۲۰۰۷ په اګست کې په کابل کې د افغانستان او پاکستان د سولې د جرګې د جوړولو او د هغه ټولیز تصمیم هر کلی کول، چې په جرګه کې ونیول شو، چې سیمې ته پایښت لرونکې سوله راوستل شي د هغه تروریستي ګواښ سره د معاملې کولو په ګډون، او د اړونده تعقیبوونکو پروسو لپاره ملاتړ اعلانول،

"د ۱۲۶۵ (۱۹۹۹)، ۱۲۹۶ (۲۰۰۰) او ۱۶۷۴ (۲۰۰۶) پریکړو پر بنا په وسله واله شخړه کې د ملکیانو د ساتنې په باره کې، د هغې ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) لمبر پریکړه د ښځو، سولې او امنیت په باره کې او ۱۶۱۲ (۲۰۰۵) لمبر پریکړه یې د ماشومانو او د جګړییزې شخړې په باره کې او په هر کلي او قدردانی سره د سرمنشي د اووم رپوټ (S/2007/757) په هر کلی کولو سره چې د ماشومانو او د ۲۰۰۷ د دسمبر د۲۱ وسله والې شخړې په باره کې و،

" ۱. د سرمنشی د ۲۰۰۸ د مارچ د ۶ رپوټ هر کلی کوي،

" ۲. د ملګرو ملتونو د اوږد مهال ژمنتوب هرکلی کوي، چې د افغانستان له دولت او خلکو سره کار کوي،

" ۳. پریکړه کوي چې د یوناما ماموریت اوږد کړي لکه څرنګه چې د شورا په ۱۶۶۲ (۲۰۰۶) او ۱۷۴۶ (۲۰۰۷) لمبر پریکړو کې د ۲۰۰۹ د مارچ تر ۲۳ پورې تعریف شوې دی،

"۴. بیا هم پریکړه کوي، چې یوناما او د سرمنشي ځانګړی استازی به د خپلو ماموریتونو په دننه کې او د افغان مالکیت او مشرتابه د اصل د بیا پلی کولو په لارښوونې سره د نورو شیانو سربیره، د نړیوالو هڅو مشرتابه کوي، چې:

أ. د انسجام او نظارت د ګډ هئیت (JCMB) د ګډ رئیس په توګه د افغانستان د دولت لپاره د نړیوالې ټولنې لا زیات منسجم کومک بهتر کړي او د مرستې د اغیزناک توب د هغو اصلو پیروي به کوي چې د افغانستان په تړون لیک کې یاد شوی دی د دې شیانو له لارې په ګډون سره لکه د زیرمو په خوځښت راوستل، د هغې مرستې همغږي کول چې د نړیوالو مرستندویانو او موسسو له خوا ورکړل شوې او د ملګرو ملتونو د نمایندګیو د ونډو، پانګو او پروګرامونو لارښوونه په خاص طور د نشه یي توکو ضد، د بیا ودانولو او پراختیایي فعالیتونو لپاره،

ب. د موجودو ماموریتونو پر بنسټ په ټولو سطحو او په ټول هیواد کې له ایساف سره همکاري پیاوړې کړي چې په دې توګه ملکي- پوځي همغږي بهتره کړي، د معلوماتو په موقع راکړه ورکړه او تبادله اسانه کړي، او د ملي او نړیوالو امنیتي ځواکونو تر منځ همغږي د افغانستان په مشرې پراختیا او د ټیکاو راوستلو د پروسې په ملاتړ تامین کړي، ددې کار په ګډون لکه د ولایتي بیا رغونې له ټیمونو سره د بوخت تیا، او له انجوګانو سره د بوخت تیا له لارې،

ت. په ټول هیواد کې د یوه پیاوړی او پراخ شوي حضور له لارې سیاسي پراختیا تامین کړي، په سیمه ییزه کچه د افغان تړونلیک، د NDS او د نشه یي توکو د کنترول د ملي ستراتیژۍ پیل کول بهتر کړي، او د دولت د پالسیو د پوهاوی شاملول اسانه کړي،

ث. که چیرې د افغانستان د دولت له خوا وغوښتل شي، د افغانستان د اساسي قانون په چوکاټ کې د ننه د افغانستان په مشری د پخلاینې د پروګرامونو په پلی کولو کې د ښه نیت په مرستو سره ملاتړ وکړي او په بشپړ احترام سره د هغو اقداماتو پلی کول چې د امنیت شورا په خپلې ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) لمبر پریکړه لیک او د دغې شورا په نورو پریکړو کې ښودل شوې دي،

ج. د محلي ارګانو د خپلواک ریاست له لارې په ګډون د هغو هڅو ملاتړ وکړي چې حکومت کول او د قانون حاکمیت بهتر شي او له فساد سره مبارزه وکړي په خاص طور په محلی سطحه او په محلي سطحه د پراختیا نوښتونه بهتر کړي په دې نظر چې د سولې د ګټو له منځ ته راوړلو سره مرسته وکړي او خدمتونه په خپل وخت او پایښت لرونکي توګه ورسوي،

ح. د بشرپالنې له اصولو سره سم د همغږی مرکزي رول ولوبوي چې د بشري مرستې رسول اسانه کړي او د افغان دولت د ظرفیت د لوړولو په پام کې نیولو سره او د اغیزناک ملاتړ کولو په ګډون له ملي او محلي چارواکو سره د داخلي بیځایه شویو اشخاصو د ارزونې او ساتنې په برخه کې او د داسې شرایطو په منځ ته راوړلو کې، چې د کډوالو او داخلي بیځایه شویو لپاره د خپلې خوښې، عزتمن او پایښت لرونکي راستنیدلو موجب کیږي،

خ. د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنر د دفتر په مرسته دې کار ته دوام ورکړي چې د افغانستان د بشر د حقونو له خپلواک کمیسیون سره همکاري وکړي او همدارنګه له اړونده ملي او محلي دولتي موسسو سره همکاري وکړي چې د هغو اساسي ازادیو او بشري حقونو د حکمونو د بشپړ تطبیق نظارت وکړي چې د افغانستان په اساسي قانون او هغو نړیوالو تړونونو کې راغلي دي چې افغانستان یې غړیتوب لري په خاص ډول د هغو احکامو چې د ښځو له خوا د هغوي د بشري حقونو د بشپړې ګټې اخیستې په اړوند دي،

د. د افغاني مقاماتو په غوښتنه، د ټول ټاکنو د پروسې ملاتړ کوي په خاص ډول د افغانستان د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون له لارې د تخنیکي مرستې په برابرولو سره د نورو نړیوالو تمویل کوونکو او مرستندویه نمایندګیو او سازمانو په واسطه د پروسې د موجودو او هغو اضافي لګښتونو د تنظیمول چې د دغې پروسې د ملاتړ لپاره تخصیص کړای شوي دي،

ذ. د سیمه ییزې همکارۍ څخه د یوه با ثباته او سوکاله افغانستان په لور د کار کولو په موخه ملاتړ

"۵. د افغاني او نړيوالو اړخونو ځخه غوښتنه کيږي چي يوناما سره د نوموړی دفتر د اختياراتو د پلی کولو په برخه کي همکاري وکړي ترڅو د ملګرو ملتونو او اړوندو کارکوونکو د امنيت او آزاد ګرځيدلو هڅو ته وده ورکړي،

" ۶. د يوناما او ملګرو ملتونو د نورو نمايندګيو د پياوړی کولو او موجوديت د غزولو او په ولايتونو کي د پروګرامونو او تمويل په اهميت تاکيد، عمومي منشي د موجوده هڅو تعقيبولو ته هڅوي ترڅو د داسي پياوړتيا او غزولو او د اړونده امنيتي مسايلو سره د معاملي په موخه لام تدبيرونه نهايي کړي،

" ۷. په افغان حکومت، نړيوالي ټولني او نړيوالو سازمانونو غږ کوي چي د افغانستان تړون ليک او د هغه ضميمی پر بشپړه توګه پلي کړي او په دغه زمينه کي د افغانستان د تړون ليک د معيارونو او زمانی وقت د تلفيق په اهميت د امنيت، حکومت کولو، د قانون د حاکميت، بشري حقونو، اقتصادي او ټولنيزې پراختيا او همدارنګه د نشه يي توکو د څو اړخيزو مسلو په هکله پرمختګ باندې ټينګار کوي،

" ۸. د افغانستان د تړون ليک په پلی کولو کي د نظارت کولو د اسانتياوو په برابرولو او هماهنګی کي د JCMB د لوبول شوی مرکزی رول بيا تائيدوي، او د هغه د صلاحيت او ظرفيت د پياوړتيا په ضرورت تائيد کوي، ترڅو د نورو شيانو ترڅنګ د افغانستان د تړون ليک د معيارونو د عمده مطالبو په لور پرمختګ معلوم کړی او د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ په ملاتړ د نړيوالو مرستو هماهنګۍ برابرول او له ټولو اړوندو فعالينو څخه غوښتنه کوي چي په دې هکله JCMB سره همکاري وکړي، د افغانستان له حکومت سره د مرستندويه پروګرامونو په رپوټ ورکولو سره د افغان دولت د همغږۍ واحد ته د JCMB په ګډون،

" ۹. د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ په نهايي کولو کي د افغانستان د حکومت د پرمختګ ستاينه، د هغه پيل کيدو ته تمه او په دې زمينه کي د مناسبو سرچينو د تنظيم په اهميت، د لندن په کنفرانس کي د شويو ژمنيو د ترسره کولو په شمول، ممکنه نوی ژمني او د اصلي بودجې لپاره د لا زياتو مرستو پرسر تاکيد،

" ۱۰. د سياسي رئيسانو په غونډه کي چي د ۲۰۰۸ کال د فبروري د ميشاتي په ۵ نېټه د افغانستان په هکله په توکيو کي دايره شوه، دJCMB د غړيو له خوا په علاقمندۍ سره د نيت يادونه، څو د افغانستان د تړون ليک د پلی کولو په هکله د پرمختګ د ارزولو په موخه د يو نړيوال کنفرانس جوړيدل ، د فرانسي د وړانديز ستانيه کوي څو د ۲۰۰۸ کال د جون په مياشت کي په پاريس کي داسي کنفرانس داير کړي، د عمومي منشي څخه غوښتنه کيږي څو په دې هکله د امنيت شورا ته رپوټ ورکړي او کـه چيرې ضروري وي، د يوناما د اختياراتو په اړوند پدې رپوټ کي نور وړانديزونه شامل کړي،

" ۱۱. د نړيوالي ټولني په مرسته، د افغانستان له حکومت، ايساف ځواکونو او د پايداري سولي د عملياتو د ځواکونو څخه غوښتنه څو هغوي ته د ورسپارل شويو مسوليتونو سره سم لکه څنګه چي هغوي تکامل کوي، خپلو هڅو ته دوام ورکړي څو د افغانستان د سولي او ثبات پر ضد له هغو ګواښونو سره چي د طالبانو،

القاعدې، نا قانونه وسله والو ډلو، جنایتکارانو او د نشه يي تکو په سوداګرۍ کې د ښکیلو ډلو له خوا متوجه دي، معامله وکړي

" ۱۲. ټول بریدونه لکه د IED بریدونو، ځانمرګي بریدونه، تښتونې، د ملکي کسانو، افغانو او نړیوالو ځواکونو د هدف نیول، په ثبات، بیا رغونې او هیواد کې په پراختیایی هڅو کې د هغوي ناوړي اغیزې او د طالبانو او نورو افراطي ډلو له خوا د انساني سپر په حیث د ملکي کسانو کارول په خورا سختو الفاظو کې غندي،

" ۱۳. د ټولو ملکي کسانو د تلفاتو په هکله خپلې اندیښنې په بیا بیا تکراروي، د بشرپالنې د نړیوالو او بشري حقونو د قانون رعایت کول غوښتنه او د ملکی کسانو د ساتنې په خاطر د مناسبو ګامونو اخیستل، او په دې زمینه کې د ملکي تلفاتو د خطر کمولو په موخه د ایساف او نورو نړیوالو ځواکونو، غښتلي عملي هڅې، په تیره بیا د افغانستان د حکومت په همکارۍ د هغو قضیو په اړه چې د ملکي تلفاتو د پیښیدو په هکله رپوټ شوی او د تاکتیکونو، طرزالعملونو او عملیاتو وروسته د تنظیم د چارو دوامداره بیا ارزونه غواړي،

" ۱۴. په افغانستان کې د طالبانو له خوا د ماشومانو د کارولو او استخدام او همدارنګه د شخړو په نتیجه کې د ماشومانو وژنې او معیوب کیدو په هکله د کلکې اندیشنې اظهار، د پوځي شخړو په وضیعتونو کې د تنکیو عسکرو کارول او استخدام له منل شویو نړیوالو قوانینو سرغړونه او د نورو ټولو سرغړونو او ناوړه استعمال د کلکې غندنې تکرارول، پدې زمینه کې د امنیت د شورا د ۱۶۱۲ (۲۰۰۵) شمیرې پریکړه لیک د پلی کیدو په اهمیت ټینګار، له عمومي منشي څخه غوښتنه کیږي چې د یوناما د ماشومانو د ساتنې برخه په خاص ډول د ماشومانو د ساتنې د مشاورینو د ټاکنې له لارې پیاوړې کړي،

" ۱۵. په یوه پراخ چوکاټ کې د روزنو، نظارت او پیاوړتیا د هڅو له لارې د افغان امنیتي سکتور د عاملیت، مسلکی والی او حسابدهی په اهمیت ټینګار،څو د یوه خود کفا او د نژادي لحاظه د یوه انډول لرونکی امنیتي ځواک چې ټول هیواد ته امنیت برابر کړي او د قانون د حاکمیت څخه ډاډ حاصل کړي، د داسې ځواک د جوړیدو لپاره د هڅو ګړندیتوب،

" ۱۶. په دې زمینه کې د افغان د ملي اردو د دوامداره پرمختګ او د هغوي د بهتر شوی توان د پلان جوړولو او د عملیاتو د پر مخ بیولو څخه ستاینه، د عملیاتي نظارت او ارتباط د ټیمونو او دوامداره روزنیزو هڅو له طریقه تشویق، او د یوه پایداره دفاعي پلان جوړولو د پروسې او همدارنګه د دفاعي اصلاحاتو په نوښتونو کې مرسته،

" ۱۷. د افغان ملي پولیسو د ظرفیتونو د لوړولو د لا زیاتو هڅو غوښتنه څو د هیواد په کچه د افغان حکومت واک ټینګ کړي، د پالیسی په جوړولو او د هماهنګی په رامنځ ته کولو کې د نړیوالو پولیسو د هماهنګی د

هئیت د لا زیات لوبول شوی رول ستاینه، او په دې زمنیه کې د اروپایي ټولنې له طریقه د هغوی د پولیسي ماموریت د برخې اخیستنې د اهمیت پر سر تاکید،

" ۱۸. د نړیوالې ټولنې په ملاتړ سره، د افغانستان د حکومت له خوا د ناقانونه پوځې ډلې د انحلال د پروګرام د پلی کولو په هکله د لا زیات پرمختګ غوښتنه،

" ۱۹. د تریاکو د مخ پر زیاتیدونکی کښت، تولید او قاچاق د جدي خطرونو په هکله چې د هیواد امنیت، پراختیا، حکومت کولو او همدارنګه سیمي او نړۍ ته ورپېښوي خپله اندیښنه بیانوي، د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د افغان د حکومت څخه غوښتنه کیږي چې د نشه يي توکو د کنترول د ستراتیژۍ د پلی کیدو په هکله لکه څنګه چې د JCMB د ۲۰۰۸ کال د فبرورۍ د توکیو په ناسته کې پر خبرې شوی، په خاص ډول په داخلي او د ملي پروګرامونو په کچو کې د نشه يي توکو د مبارزې د جهت د تعیینولو چارې ګړندی کړي، د هغو څلورو لومړیتوبونو لپاره چې په ستراتیژۍ کې مشخص شوی، د مخدره توکو سره د مبارزې د اعتبار د صندوق لپاره د مرستو د برابرولو له لارې د نړیوال اضافي ملاتړ تشویق او هڅوي،

" ۲۰. په هیوادونو غږ کیږي چې د نشه يي توکو د نا قانونه تولید او قاچاق څخه د راپورته شویو ګواښونو په اړه چې نړیواله ټولنه ورسره مخ ده د نړیوالې او سیمه ییزې همکارۍ پیاوړې کیدل او همدارنګه د پولو د اداره کولو د همکارۍ له طریقه او د مخدره توکو د نا قانونه قاچاق په وړاندې د مبارزې لپاره د همکارۍ رامنځ ته کول او د غیر قانوني پیسو پر ضد مبارزه چې د داسې قاچاق کولو سره ارتباط لري، د پاریس د تړون د نوښت د چوکاټ په د ننه کې، د افغانستان څخه د مخدره توکو د قاچاق د لارو په هکله د وزیرانو د کچې د دوم کنفراس د پایلو په نظر کې نیول، د ۲۰۰۶ کال د جون د میاشتې د ۲۶- ۲۸ نیټو (S/2006/598) پریکړه لیک ، چې په مسکو کې د روسیې د فدراسیون د حکومت او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د دفتر UNODC له خوا جوړ شوې و،

" ۲۱. په افغانستان کې د قانون د حاکمیت په اړه د روم د کنفرانس د پایلو مطابق د افغانستان د چارواکو له خوا د عدالت د ملي پروګرام د منلو په اړوند ستاینه کوم چې د ۲۰۰۸ کال په فبرورۍ کې د JCMB په ناسته کې په توکیو کې پیل شوه، د ټولو اړوندو فعالینو له خوا د یاد شوی پلان د بشپړ او په وخت تطبیق تاکید څو د یوه عادلانه، روڼ عدلي سیستم جوړیدل او د هیواد په کچه د قانون د حاکمیت پیاوړی کول او د معافیت له منځه وړل ګړندی کړي،

" ۲۲. په دې زمینه کې په افغانستان کې د بیا رغونې او د زندانونو د سکتور د اصلاحاتو د لا زیات پرمختګ په اهمیت ټینګار ترڅو د قانون د حاکمیت او بشري حقونو د درناوی په برخه کې ښه والی رامنځ ته شي،

" ۲۳. په امنیت، ښه حکومت کولو، مخدره توکو پر ضد مبارزې په هڅو او اقتصادي پراختیا باندې د مخ پر زیاتیدونکی اداري فساد د اغیزې په اندیښنې سره یادول، او د نړیوالې ټولنې په مرسته د افغانستان د حکومت

څخه غوښتنه څو د اداري فساد په وړاندې په شدت مبارزه وکړي ترڅو د یوې اغیزمنې، حساب ورکوونکې او روڼې ادارې د رامنځ ته کولو لپاره خپلې هڅې لا زیاتې کړي،

" ۲۴. د افغانستان ټولې ادارې، د قانون جوړولو او اجرائیوي څانګې د همکارۍ د روحیې په درلودلو سره کار کولو ته رابولي، د افغانستان د حکومت څخه غوښتنه کوي ترڅو د قانون جوړولو او عامه اداري چارو اصلاحات د ښه حکومت کولو څخه د دفاع او په ملي او فرعي کچو کې د بشپړې برخې اخیستې او حساب ورکولو پخاطر تعقیب کړي، پدې برخه کې د تخنیکي همکارۍ د برابرولو پخاطر په لا زیاتو نړیوالو هڅو ټینګار، او د افغانستان د تړون لیک مطابق د لوړ پوړو چارواکو ټاکنو د هیئت د نقش یادونه کوي،

" ۲۵. نړیواله ټولنه هڅوي، چې د افغانستان له حکومت سره د ظرفیت لوړول او د بشري سرچینو پراختیا په یو څو اړخیزه لومړیتوب ګرځولو کې مرسته وکړي،

" ۲۶. د راتلونکو ټول ټاکنو په دایرولو کې د افغاني ادارو د مخکښه رول یادونه، د داسې ټول ټاکنو د پلانونو او تیاریو لپاره د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د افغانستان د حکومت د هڅو ګړندیتوب، د افغانستان د تړون لیک مطابق د رای ورکول د یوه دایمي فهرست (CVR) د جوړولو په سر تاکید او د آزادو، عادلانه او شفافو ټول ټاکنو په اهمیت ټینګار ترڅو د هیواد دیموکراتیک پرمختګ جاري وساتي،

" ۲۷. د هیواد په کچه د بشري حقونو، اساسي ازادیو او نړیوالو بشري قوانینو د بشپړ درناوی غوښتنه، په اندیښنې سره د ډله ایزو رسنیو په وړاندې د مخ په زیاتیدونکو محدودیتونو یادونه، په هیواد کې د بشري حقونو د درناوی د نظارت او همدارنګه د دغو حقونو د ودې او درناوي او د یوې اکثریت ګرا مدني ټولنې د ظهور او څرګندیدنې په هکله د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د میرانیو هڅو ستایل او د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره د ټولو اړونده فعالینو د بشپړې همکارۍ په نیو اهمیت تاکید،

" ۲۸. په وروستیو کلونو کې په هیواد کې د جنسیت د چارو د برابروالی په هکله د پام وړ تر لاسه شوی پرمختګ پیژندنه، د ښځو او نجونو په وړاندې د خشونت او توپیر د جاری ښو کلکه غندنه، د امنیت د شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک په پلی کولو ټینګار، د عمومي منشی څخه غوښتنه کیږي چې د امنیت شورا ته په خپل رپوټ کې په سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند کې د یو ځای کیدو د پروسې په اړوند معلوماتو ته ځای ورکړي،

" ۲۹. د امنیت د شورا د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر د ۱۵ د ۱۲۶۷ شمیري پریکړه لیک او د امنیت د شورا د نورو اړوندو پریکړه لیکونو د پلی کیدو د توپیری طرفداری څخه پرته، د افغانستان د تړون لیک مطابق د سولې، عدالت او پخلاینې په هکله د عمل د پلان د بشپړه پلی کیدو څخه د دفاع د لا زیاتو هڅو غوښتنه کوي،

" ۳۰. د امنیت د شورا د کمیټې سره د افغانستان د حکومت او یوناما د همکارۍ ستاینه کومه چې د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) پریکړه لیک او د ۱۷۳۵ (۲۰۰۶) پریکړه لیک د پلی کیدو په تعقیب رامنځ ته شوه، او د هغو کسانو او ادارو پیژندل چې د القاعدې او طالبانو د فعالیتونو یا عملونو د ملاتړ او یا مالي مرستو په کولو کې ګډون لري چې محصولات یې د ناقانونه مخدره توکو د کښت، تولید او قاچاق څخه ترلاسه کیږي، او د داسې همکارۍ د دوام تشویق،

" ۳۱. د افغانستان، د هغه د ګاونډیو او سیمه ییزو شریکانو له خوا د جارې هڅو هر کلی چې یو له بله سره همکاري او اعتماد کوي، د همکارۍ د وروستیو لومړیتوبونو په شمول چې د سیمه ییزو موسسو له خوا جوړ شوي، او د طالبانو، القاعدې او نورو افراطي ډلو په وړاندې د افغانستان او نورو شریکانو تر منځ د لا زیاتې همکارۍ او په اقتصادي او پراختیایي سکتورونو کې د یوې وسیلې په حیث د نړۍ او سیمې په اقتصاد کې د افغانستان د بشپړې یو ځای کیدنې غوښتنه،

" ۳۲. د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ د پروسې د پیاوړي کولو او د سیمه ییزې سوداګرۍ د تسهیل د اقداماتو په شمول، په آسیا کې د ځمکنی پل په حیث د افغانستان د تاریخي نقش د یادونې او نړیوالې پانګوونې او د زیر بنا د پراختیا غوښتنه،

" ۳۳. د سیمې او هیواد د ثبات لپاره د پاتې افغان کډوالو د خپلې خوښې، خوندي، منظمه راستانیدنه او د پایداره یو ځای کیدلو درک کول، پدې برخه کې د لا زیاتې او دوامدارې نړیوالې مرستې غوښتنه،

" ۳۴. د عمومي منشي څخه غوښتنه کیږي چې له هرو ۶ میاشتو وروسته دې د افغانستان د وضعیت په هکله د امنیت شورا ته د دې پریکړه لیک د ۱۰ پراګراف د غوښتل شوی رپوټ علاوه رپوټ وړاندې کړي،

" ۳۵. پریکړه کوي چې موضوع ته به په فعاله توګه متعهد پاتې شي."

* *** *